سلطان جان کلیوال چهارشنبه ۱۱ جولای ۲۰۱۸

# د شهر ناپُرسان یوه کیسه!

د شهر ناپُرسان په هکله ډیری کیسی جوړی شویدی، ماهم ډیر کلونه وړاندی یوه کیسه داسی اوریدلی ده:

وایی چی یوه بوډا تجربه کار سپین ږیری د خپل ژوند په وروستیو شیبو کی خپل یواځنی زوی ته د وصیت او وروستی نصحت په توګه و ویل:

رنځور بوډا: زویه زه د مرګ په حال کی یم، تر اوسه چی می هر څه درته ویلی، تا نه دی اوریدلی اونه دی راته غوږ نیولی، خو نن درته یوه وروستی خبره کوم او غواړم چی د زړه په غوږویی واوری اوعمل پری وکړی هغه خبره داده چی: که غواړی چی پیښیمان نشی او بی ځایه د کړاو سره مخ نشی نو «پام کوه چی هیڅکله شهر ناپُرسان ته ولاړ نشی.»

رنځور بوډا زوی ته همدا و ویل او ځان یی حق ته وسپاره.

وختونه تیریدل او د دی سړی په زړه کی د یوی ورځی نه بلی ته د شهر ناپُرسان د لیدو د پاره تلوسه زیاتیدله. آخر یی فیصله وکړه چی حتمی باید یو کرت دی ښار ته ولاړ شی او په دی ځان و پوهوی چی په دی ښار کی څه ډول داسی خاص حالات روان دی چی د ده مرحوم پلار د ژنکدن په وخت کی هغه ته د نه ورتللو وصیت وکړ او هغه یی هلته له تللو نه منع کړ.

تردی پریکړی وروسته سړی د خپلی کورنی نه رخصت واخست او د شهر ناپُرسان په لور روان شو. سړی بلاخره د همدی چرتونو او سوچونو سره چی څه به ګوری د ښار دروازی ته ورسیده. ویی لیدل چی د ښار نه د باندی په یوه لویه میدانی کی خلک را ټول دی او د کوم مجرم په هکله محکمه روانه ده.

د دده د رسیدو سره سم قاضی ژنګوله و کړنګوله او ټو ل خلک چپ شول.

قاضی: ته فلانی د فلانی زوی د غلا او قتل د جرمونو دارتکاب له امله چی ټول ثبوتونه موجود دی د هیواد د جزا د قانون د څومی د حکم له مخی، تا په اعدام محکوموم او دا وروستی فیصله ده.

د دی اعلان سره سم د قاضی صاحب میرمنه راغله او قاضی ته یی په غوږ کی څه و ویل.

قاضی: او خلکو غوږ شی د عینی شاهدانو د شاهدی له مخی دا سړی قاتل نه دی او یواځی د ناثبوت شوی غلا په جرم متهم دی نو ځکه زه خپله پخوانی فیصله بد لوم او داسړی باید په زندان کی دوه نوری میاشی هم تیری کړی او بیا دی آزاد شی د نن ورځی محکمه پای ته ورسیده.

ټولوحضارینو حیران یو بل ته کتل خو د چا سره د پوښتنی جرئت نه و، ځکه د قاضی په خوی او خصلت ټول پوهیدل. خلک خواره شول.

ښار ته نوی راغلی مسافر هم د شپې تیرولو د پاره یوه سماوار ور ننوت د سماوار د لرګیو په تخت چې زوړ ټغر ور باند خورو کښیناست، د تخت په یوه څنډه د ښار ځو اوسیدونکو په همدی هکله خبری کولی چې قاضی ولی دا سړی په اعدام محکوم کړ او سمدستی یی بیرته خپله فیصله واړوله او دومره ستره جزایی په دوه میاشتی قید تبدیله کړه؟

د دوی له منځه یوه تن و ویل خبره د قاضی صاحب په میرمن کی وه چی راغله او قاضی ته یی په غوږ کی څه و ویل هغه دستی خپله لومړۍ فیصله ماته او نوی فیصله یی صادره کړه. د ډلی له منځ نه یوه نسبتاً ځوان سړی و وویل اصلی کیسه دا سی ده چی:

ځوان سړی: د قاضی صاحب لور د دی مجرم په زوی عاشقه ده خو دا هلک ورسره مینه نه کوله، کله چی دا پیښه را منځ ته شوه او د مجرم زوی د خپل پلار د مرګ خبر واو ریده نو سمدستی د قاضی صاحب لورته ورغی او ورته ویی ویل چی زه درسره مینه کوم خو پلار می له مرګه و ژغوره د قاضی لور هم ډیره خوښه شوه او فوراًیی خپله مور خبره کړه او هغی نه یی و غوښتل چی ورشی او پلار ته یی و وایی چی دا سړی خوشی کړی، نو هماغه و چی د قاضی میرمن راغله او قاضی ته یی په غوږ کی و ویل چی، دامجرم سړی زمونږ د راتلونکی زوم پلار او زمونږ د لور راتلونکی ځُسر دی ، که ته هغه خوشی نکړی او دومره درنه جزا ورکړی نو زه به د خپلی لور په خاطر هرڅه ته اور واچوم. نو ځکه قاضی فوراً خپله فیصله و کر ځوله او سړی ته د خوشی کیدو لاره جوړه کړه.

ښارته نوی راغلی مسافر څه ناڅه و پوهیده چی پلاریی ولی ده ته وصیت او نصحت وکړ چی شهر نا پرُسان ته به نه ځی؟

کله چی سهار شو جارچیانو بیا ډنډوره و غږوله چی د ښارنه بیرون محکمه پیلیږی که څوک علاقه لری نو ور دی شی. مسافر هم ځان تللو ته تیار کړ او د محکمی میدان ته یی ځان ورساوه. مجرمین قطار درول شوی وو او ټول خلک د قاضی د راتلو په انتظار وو. بلاخره قاضی صاحب راغی او ټول د احترام د پاره ودریدل. قاضی په خپل مسند کښیناست او د محکمی رسمی پیل اعلان شو. د اعلان سره سم پخوا له دی چی قاضی کوم مجرم د سوال ځّواب ځای ته را و غواړی، یو سړی چی په وینو ککړ و اوګوډ کوډ کیده، د غالمغال سره یی ځان د قاضی مخی ته ورساوه:

قاضی: څه خبره ده ولی دومره چیغی وهی او دا ولی ټول په وینو لړلی یی؟

عارض: صیب هر څه می په دی کاغذ کی لیکلی دی.

قاضی: کاغذ پریده، په خوله راته و وایه چی دا څه در باندی شوی؟

عارض : قاضی صاحب زه غل یم او د فلانی سړی کورته د غلا د پاره ورغلی وم، چی د قلا په دیوال ور پورته کیدم د دیوال د سرخښتی را خطا شوی زه له دیوال نه لاندی را ولویدم سر او پښه می دواړه مات شول. قاضی: نو زه څه وکړم، څوک درته ملامت ښکاری؟

عارض: قاضی صیب ټوله ملامتیا د کور د خاوند ده.

قاضی: سمه ده، ته ښه وایی، هلئ فوراً د کور خاوند را حاضر کړی.

سپاهیان لاړل او د کور خاوند یی لاس تړلی رواست.

قاضی: ته د کور خاوند یی ؟

د کور خاوند: بلی صاحب کور زما دی.

قاضی: دا د کور دیوالونه دی ولی داسی خام جوړ کړیدی ، ایا ته نه پوهیدی چی یوه ورځ به په چا را لویږی او په دی حالت به اوړی؟ ( عارض ته اشاره)

د کورخاوند: صیب ! په دی کی زما څه قصور نشته، ما خو دیوال پخپله نه دی جوړ کړی، ماخو ګلکار ته مزدوری ور کوله او هغه کار کړیدی، نو باید چی دی پوښتنی ته هغه ځواب و وایی نه زه.

قاضی : دا سړی رښتیا وایی دا ټوله ګناه د ګلکار ده ژربی را حاضر کړی.

سپاهان په منډه و لاړل او یوه شیبه وروسته یی ګلکار را حاضر کړ.

قاضی: ښه نو ګلکاره د دیوال جوړونکی ته یی؟

ګلکار: هو صیب دیوال ما جوړ کړیدی، خو څه چل شوی، کومه ګناه می کړیده؟

قاضی: هو ګناه دی کړی، دی سړی ته وګوره،(زخمی غله ته اشاره) که دی د دیوال خښتی سمی لګولی وای او کافی مساله دی ورکړی وایی نن به ددی سړی دا حال نه و.

ګلکار: صیب زه تاسو ته قسم خورم چی په دی کار کی زه نه یم ملامت.

قاضی: نو بیا څوک ملامت دی؟

ګلکار: صیب کله چی ما کار کاوه نو د مخامخ کور په بام یوه ښکلی جنی راپورته کیده، نو صیب زه خو هم انسان یم زړه لرم هغی ته به می کتلی وی او خښته به یا سمه ځای ته نه ورغلی او یا به یی په مساله کی څه کمی راغلی وی.
قاضی: دا سړی ښه وایی هلی فوراً لاړ شی او هغه جنی را حاضره کړی.

سپاهیان بیا په منډه و لاړل او لږه شیبه وروسته یی جنی را حاضره کړه.

قاضی: ښه نو هغه جنی ته یی چی دا ګلکار دی په خپلو غمزو او اشارو سره له کاره ویستلی دی؟
جنی: قاضی صیب زه و نه پوهیدم ما به ولی دا کار کړی وی؟

قاضی ټوله کیسه جنی ته کوی او ورته وایی.

قاضی: د دی پیښی د را منځ ته کیدو اصلی مجرمه همدا ته یی، که ته د دوی د کار په وخت کی د بام سرته نه وایی را پورته شوی نو ګلکار به سم کار کړی وایی او خښتی به سمی لګیدلی وای او دا پیښه به نه وایی را منځ ته شوی.

جنی: قاضی صیب زه د دوی د پاره د بام سرته هیڅکله نه یم را پورته شوی، زه د بنجاره د لیدلو د پاره چی معمولاً به په همدی وخت کی به راتلو د بام سرته را ختلم ، ځکه چی سودا ته می ضرورت و.نو په دی کی زما څه گناه ده؟ قاضی وایی چی دا جنی هم سمه خبره کوی، داټوله قصور د همدی بنچاره دی ، امر کوم چی فوراً بنجاره محکمی ته را ولی. سپآهیان بیا و لاړل او څه شیبه وروسته یی بنجاره محکمی ته را وست.

قاضی: ښه بی عقله بنجاره! ته نه پوهیدی چی د کلی نجونی ستا د راتلو د پاره د بامو سرو ته پورته کیږی، او دلته مزدوران کار کوی، هغوی د جنیکو نندارہ کوی، کار تری پاتی کیږی او هم دیوال په ناقصه توگه جوړیږی او بیا چی څوک پری ورخیژی نو داسی بدی واقعی ( زخمی غله ته اشاره) را منځ ته کوی. ته ولی بی وخته وخت په دی کلیو او کوڅو کی گرځي؟

بنجاره: جناب قاضی صیب زما خو همدا غریبی او خواری ده له همدی لاری خپلو بچو ته نفقه برابروم که زه دا غریبی و نه کړم نو څه به و خورم؟

قاضی: ښه که دا ستا وظیفه وی چی بی وخت وخت په کلیو او کوڅو کی گرځی نو دا بیا زما وطیفه ده چی عدالت تطبیق کړم او تا په دار و ځړوم او تر دی وروسته د روزی پرځای خاوری و خوری.

قاضی په خپله ډبلی میز ته درز ورکوی او وایی چی بنجاره سمدستی اعدام کړی. جلادان راځی او بنجاره د اعدام ځای ته روانوی. یو څو شیبی وروسته یو جلاد بیرته راځی او قاضی صاحب ته وای: جلاد: قاضی صیب هغه د پانسی حلقه لوړه ده او داسړی نشی ور رسیدلی ، اوس څه وکړو؟

قاضی: دا دومره ستونزه نه ده دستی به یی درته حل کړم.

قاضی ټولو حاضرینو ته امر کوی چی هر سړی دی په خپل ځای کی ودریږی. ناست کسان ټول ودریدل. قاضی صاحب ټول له نظره تیر کړل، سترگی په هماغه مسافر و لگیدی چی دی ښارته د شهر نیرسان د حالاتو د معلوملو د پاره راغلی و. دا کم بخت تر نورو په قد کی لوړ و، قاضی جلاد ته امر وکړ چی د هغه بنجاره پرځای چی قد یی لنډ او د دار حلقی ته نه ور رسیږی دا سړی چی قد یی ښه پوره لوړ دی او په اسانی سره به د دار چلقی ته ور ورسی بوزی او اعدام یی کړی چی د عدالت په تطبیق کی څه ځنډ را نشی.

جلاد د قاضی صاحب د امر سره سم همدا کار وکړ. هغه بد بخت سړی چی د پلاره خبره یی نه وه منلی د دار خواته د کشولو په وخت د ځان سره څه زمزمه کوله:

څوک چی نه منی خبره د خپل پلار ـ ورته رسی به همداسی سخت آزار له کلو کلو راهیسی دی روانــــی ـ زمونږ ښار کی دا کیسی تکرار تکرار. جون/۲۱/۲۰۱۸ تورنتو ـ کاناډا